DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه
۹۲۵
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

PROPERTY OF ACKU

د بنگله دېش کوچ:

د افغان لوبډلې چټک پرمختګ حيرانوونکی دی

د فرانس پريس خبري اژانس د راپور له مخې د بنګله دېش د کرکټ ټيم کوچ، چې هېواد يې د لومړي ځل په اسيايي لوبو کې د سرو زرو ميډال ګټلی او دا خوشحالي لمانځي، پرون افغانستان ته په پاېلوبه کې له ماتې ورکولو وروسته وويل: موږ په دې بري خوشحالي کوو، خو افغانانو ته هم پکار ده چې خوشحاله واوسي ځکه چې دوی هم ۳مخ

يولسم کال – دويمه دوره، ۹۲۵ مه ګڼه، پر له پسې ۱۹۹۲ ګڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د ليندۍ ۶ مه – د شنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق ذوالقعدة الحرام ۲۱ مه ۲۰۱۰ د نومبر ۲۷ مه

څوک ګرم دي، لويه څارنوالي که کمېسيون؟!

له هغې وروسته چې د افغانستان لويې څارنوالۍ تحقيق ته د ټاکنو د کمېسيون او د ټاکنيزو شکايتونو د کمېسيونو د وياندويانو او ځينو نورو لوړپوړو چارواکو حاضرېدل اعلان کړل، د دې کمېسيونو وياندويان وايي، چې په دې هکله نه دوی او نه د دوی دفتر ته کوم رسمي مکتوب رسېدلی دی. د افغانستان د لويې څارنوالۍ مرستيال رحمت اله نظري د پنجشنبې په ورځ ناوخته ازادۍ راډيو ويلي وو، چې د ټاکنو د کمېسيون د وياند نور محمد نور او د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون د وياند احمد ضيارفعت په هکله يې د خلکو او يو شمېر کانديدانو شکايتونه ترلاسه کړي دي. ځکه يې د پوليسو په ذريعه غوښتي چې څارنوالۍ ته حاضر او د شکايتونو په هکله تحقيق ته غاړه کېږدي. ضيارفعت د جمعې په ورځ خبري رسنيو ته وويل چې که مسئله جرمي وي دی تحقيق ته حاضر دی او که د انتخاباتي چارو په هکله وي. نو هېچاته به په کې د لاسوهنې حق ور نه کړي. ده وويل:





(لويه څارنوالي چې د مطبوعاتو له لارې، د پوليسو په ذريعه تحقيق ته د يو شخص د حاضرېدو مسئله مطرح کوي، دا نوې خبره ده. په دې هکله د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون تر اوسه کم مکتوب نه دی ترلاسه کړی. خو د مطبوعاتو له لارې د يوې خبرې ډنډوره کول، بله مانا لري.)

سربېره پر دې د انتخاباتو د خپلواک کميسيون وياند نور محمد نور وويل، چې دی د کمېسيون وياند دی او د کمېسيون په چارو کې هېڅ ډول اجرايوي برخه يا واک نه لري. ده وويل، که څارنوالي د هرې موضوع خبرې غواړي، کمېسيون يې مرستې ته چمتو دی. نور زياته کړه: (تر ننه پورې چې هره خبره ما کړې ده د ټاکنو د کمېسيون نظر دی، ما له ځانه کومه خبره نه ده زياته کړې او نه مې کمه کړې، زه هېڅ ډول اجرايوي صلاحيت په کمېسيون کې نه لرم او د لويې څارنوالۍ دا مسئله سياسي بڼه لري او که دوی کومه ستونزه لري، دوی کولای شي له کمېسيون سره تماس ونيسي نه زما سره.)

لويه څارنوالي وايي، د دوي پر خلاف ورسره د خلکو او يو شمېر کانديدانو شکايتونه پراته دي او پکار ده چې دواړه وياندويان څارنوالۍ ته حاضر او د ځانونو سپيناوي وکړي. خو بل پلو د لويې څارنوالۍ مرستيال رحمت اله نظري وويل، ممکن مکتوب د جمعې د ورځې د رخصتۍ له ۳مخ

امیدهای بی سرانجام روسیه به ناتو

همان طور که دمیتری مدویدیف از نشست سران روسیه و ناتو به عنوان نقطهٔ عطفی در روابط طرفین یاد کرده بود، ناظران سیاسی از این نشست انتظار پیشرفت‌ها زیادی در روابط مسکو و بروکسل داشتند. اواخر ماه سپتمبر نماینده گان ناتو و رهبران کشورهای غرب نیز به وجود بسترهای مناسب برای نزدیکی روابط روسیه و ناتو از جمله در قالب ایجاد سامانه مشترک ضد موشکی و احتمال عضویت روسیه در ناتو اشاره کرده بودند. در آستانه نشست لیزبن، روزنامه «اینترنشنل هرالد تریبیون» مقاله بارک اوباما، رییس جمهور امریکا را منتشر کرد که طی آن وی بر تجدید روابط ناتو با روسیه تأکید کرده بود. رییس جمهور امریکا در این مقاله با دعوت از روسیه «تبدیل مسأله سپر ضد موشکی از ص۳

په افغانستان کې د امريکا او د روسيې د جګړو توپيرونه

په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو هومره ورځې پوره شوې چې د پخواني شوروي پوځونو تېرې کړې وې، ياني نهه کاله او پنځوس ورځې.



تر دې دمه امريکايي پوځيان هم هماغسې چې شورويان د افغانستان په جګړه کې بريالي نه شول، کامياب نه ښکاري.

شوروي د ۱۹۷۹ع کال د دسمبر په ۲۷مه (جدي ۶مه) پر افغانستان وبلوسل او د ۱۹۸۹ع کال د فبرورۍ په پنځلسمه يې خپل وروستي عسکر وايست.

د امريکا او شوروي د بلوسو ترمنځ توپير دا دی چې شوروي اتحاد په همدومره موده کې شاوخوا پنځلس زره عسکر له لاسه ۲مخ

نیک کلگ:

ما قولی دادیم اما نتوانستیم آن را عملی کنیم

از اینکه در زنده گی قولی را بدهی و نتوانی به آن عمل کنی، متنفرم

دانشجویان معترض به خاطرافزایش هزینه تحصیل در دانشگاه های بریتانیا صف آرایی کردند.

درحالیکه پولیس تلاش می کرد این تظاهرات را کنترول کند، اما معترضان با پولیس درگیر شدند، آتش روشن کردند و وسایلی را به سوی پولیس پرتاب کردند.

در جریان تظاهرات در لندن، یک موتر پولیس که در جاده " وایت هال" در میان دانشجویان قرار گرفته بود، مورد حمله گروهی از معترضان قرار گرفت.

پولیس می گوید دو تن از افسران پولیس در جریان این درگیری ها مجروح شده اند که دست یکی از آنها شکسته است.

معترضان در لندن برای اعتراض، از جمله در مقابل دفتر حزب لیبرال دموکرات ص۳

اعتراض شدید رییس حزب کمونیست روسیه

از نزدیکی روابط مسکو با ناتو

رهبر حزب کمونیست روسیه، ورود این کشور به سازمان پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) را نخستین گام برای نابودی روسیه دانست. گنادی زیوگانوف، رهبر حزب کمونیست و یکی از نامزدهای دوره‌های قبل انتخابات ریاست جمهوری روسیه در گفتگو با روزنامه "پراودا" با اشاره به اینکه ورود مسکو به ناتو نخستین گام برای نابودی کشور است، اظهار داشت؛ غرب به دنبال دسترسی به منابع مواد خام روسیه است و قصد دارد این کشور را به بازاری برای اجناس و کالاهای کهنه خود تبدیل کند. وی گفت: ورود روسیه به ناتو نیازمند برگزاری همه پرسی در این کشور است و ملت روسیه تعیین کننده اصلی سیاست‌های مسکو هستند. رهبر حزب کمونیست روسیه تصریح کرد: اقدامات قشر حاکم روسیه تلاش برای غربی کردن این کشور است، درحالی که مردم روسیه به خوبی به یاد دارند نیات تاریخی غرب تجاوزگری و اشغالگری نسبت به کشورشان تغییر نکرده است. زیوگانوف گفت: روسیه به جای ابراز علاقمندی برای ورود به ناتو، باید صنایع نظامی خود را تقویت و نیروهای



مسلح این کشور را احیا کند و دایره دوستان و متحدان خود را ایجاد نماید. دمیتری مدویدیف، رییس‌جمهور روسیه شنبه گذشته با شرکت در اجلاس شورای روسیه و ناتو در لیزبن پایتخت پرتگال، آماده گی مسکو برای همکاری‌های همه جانبه با ناتو را اعلام کرد.

د افغانستان د کرکټ ملي اکاډمي
Afghan National Cricket Academy

وخت به راځي چې غابښ د زهرو به ښامار نه لري ۲

د لوی او ښښونکي خدای (ج) په نامه

د راتلونکې ولسي جرګې پر سر ناندرۍ لاهم جریان لري

د روان کال د وږي د میاشتې پر اووه ویشتمه نېټه چې کله د ولسي جرګې ټاکنې ترسره شوې، نو ورسره جوخت د ګڼ شمېر درغلیو په باب هم رپوټونه ورکړل شول. په دغو رپوټو کې ځینې داسې هم وو، چې په مستقیمه توګه یې د ټاکنو پر پایلو اغېزه شیندله. دا رپوټونه پر کابل سربېره د هېواد په یو شمېر ولایتونو، په ځانګړې توګه په لرې پرتو ولایتونو کې ورکړل شول. که له یوې خوا په ټاکنو کې د خلکو حضور پیکه و، له بلې خوا په لویه کچه په کې درغلۍ هم وشوې. که څه هم د دغو درغلیو په اړه د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون په وار وار چیغې ووهلې، چې درغلۍ به په سمه توګه څېړي او د ټاکنو له کمېسیون سره به په ګډه کار کوي، خو بیا د معترضو کاندیدانو په وینا درغلۍ په سمه توګه ونه څېړل شوې. په همدې لړ کې کله چې د ولسي جرګې د ټاکنو وروستۍ پایلې څو ورځې مخکې اعلان شوې، نو څو ساعته وروسته د لوی څارنوالۍ له لوري د نه منلو وړ وبلل شوې او ادعا یې وکړه، چې په ټاکنو کې درغلۍ شوې او دوی ته په دې اړه ځینې شواهد هم رسېدلي دي. په دې توګه د لوی څارنوالۍ او د ټاکنو د خپلواک کمېسیون ترمنځ یو ډول ناندرۍ راپورته شوې دي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ټاکنو په باب هر ډول پرېکړه او څېړنه یوازې خپل حق بولي او وايي، چې د اساسي قانون له مخې دوی د ټاکنو د ترسره کولو او د ټاکنیزو پایلو د اعلان په برخه کې خپلواک دي او بل هېڅ ارګان حق نه لري، چې د دوی په کارونو کې لاسوهنه وکړي. پر دې بنسټ دوی وايي، چې لویه څارنوالي حق نه لري، چې د دوی په کارونو کې مداخله وکړي. خو له بلې خوا لوی څارنوال ویلي چې دی شواهد او اسناد لري. چې انتخابات په دوبۍ او شهزاده سرای کې پېرل او پلورل شوي دي. د ښاغلي الکو مرستیال (نظري) وویل چې د لوی څارنوالۍ څارنوالان لږترلږه په پنځو قضیو تحقیق کوي چې له اتیا زره تر دوه لکه شل زره ډالر په کې اخیستل شوي دي. ده په دې قضیه کې د شاملو کاندیدانو نومونه یاد نه کړل. په همدې لړ کې لوی څارنوالۍ د ټاکنو د کمېسیون او ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون د ځینو مهمو کسانو د احضار امر هم صادر کړی او غوښتنه یې کړې، چې د تحقیقاتو لپاره باید لوی څارنوالۍ ته حاضر شي. خو د ټاکنو او ټاکنیزو شکایتونو کمېسیونونه د لوی څارنوالۍ څرګندوې ناقانونه او د دوی په چارو کې لاسوهنه بولي. په توګه د دوی ترمنځ کشاله او ناندرۍ راپورته شوې، خو دا څرګنده نه ده، چې د دوی ناندرۍ به تر کومه سرحده رسېږي او ایا د دوی د ناندریو د هوارې په پایله کې به د ولسي جرګې برخلیک څنګه کېږي. همدشان د دغو پایلو په تړاو به د پاتې کاندیدانو او ولس اوسني احتجاج کوم ځای ته رسېږي او له بله پلوه به تر څه وخته پورې به نوې ولسي جرګه د باور پړاو ته رسېږي او پر کار پیل کوي، دا هغه څه دي، چې تر اوسه یې په اړه څه نه شي ویل کېدای، دا به وروسته معلومېږي، چې څه کېږي.

وخت به راځي چې غاښ د زهرو به ښامار نه لري

لیکوال: هجرت الله اختیار

د افغانستان د کرکټ ملي آکادمي
Afghan National Cricket Academy
REUTERS

پوهان وايي چې ژوند د ناکامیو او بریالیتوبونو ټولګه ده، ژوند له خوښیو او خپګانونو جوړ دی، ژوند د خندا او ژړا نوم دی او ژوند لوېدلو او پاڅېدلو ته وايي. رښتیا هم ژوند د هرې زاویې او له هر لوري متضاد اړخونه لري، ځینې مهال د ځینو ګړیو په ژوند کې دوه یو د بل متضاد لوري سره په موازي توګه روان وي؛ خو له ځینو سره بیا یو وي او بل نه. د بېلګې په توګه له ځینو سره ناکامي تر غاړې وتې وي او ځینې بیا تر د بریالیو په کتار کې راځي، د ځینو خوله له خندا شکېږي او د ځینو زړونه له ډېرې ژړا چوي، خو د ژوندانه په هر حالت او هر پړاو کې صبر، زغم او هیله تر هر څه اړینه ده. پوهان وايي، هغوی چې په خپل ژوند کې هیله نه لري، پر ژوندیو نه دي حساب. هیله او امید دی، چې انسان ژوند کولو ته هڅوي او هیله او امید دی چې انسان له بد نه ښه ژوند ته او له ښه نه لا ښه ژوند ته هڅوي. نهیلي انسان وژني؛ بلکې په ژوندوني یې وژني، په تاریخ کې چې کومو قامونو هیلې درلودې، هغوی په راتلونکي کې خپل ځانونه له نشت نه شته کړي دي او کومو قامونو چې هیلې نه درلودې، هغوی له شته نه نشت شوي دي.

خبرې رانه په بله خوا روانې دي، احساساتو دومره پسې اخیستی یم چې خپل خواره واره افکار نشم راټولای، د خپل ولس او ملت تېر دېرش کلن تاریخ مې د ذهن پر پرده اوړي راوړي، هغه ټولې بدمرغۍ او دربدرۍ مې مخې ته ولاړې دي چې په خپل تېر څو دېرش کلن تاریخ کې زما ولس او ملت ورسره لاس او ګرېوان و، دا نه چې هغه بدمرغۍ او دربدرۍ اوس پای ته رسېدلې دي او ګواکې اوس زما ولس او ملت یو ښه او نېکمرغه ژوند لري؛ خو نن زه یوې خوښۍ دومره احساساتي کړی یم چې له ډېرې خوښۍ مې څو ځل له خولې چیغې ووتې او ژړا راغله. زه ملامت نه یم، ما د خپل دربدره، غمجن، وېرجن ولس د نرو او ښځو په مخونو کې لوستي دي چې که چېرې یو غمېدلی انسان ډېره وړه خوښي هم وګوري، نو د خوښۍ څو چنده ورته هوسېږي او خوشحالېږي. څه فکر کوئ چې دا ټپه له څومره غمېدلي او خوار زړه نه راوتې وي، چې:

لستوڼي وباسئ ګډېږئ
د غریبانو ښادي کله کله وینه

یو وخت و چې افغانان له خپل کوره اواره دربدره، په غربت او غمېدلي حالت کې د نورو هېوادونو په دښتو او ښارونو کې په ژوندوني ښخ وو، که څه هم اوس په خپل وطن کې پرې ځمکه سره ده او له اسمانه پرې خروار بمونه ورېږي، خو دومره ده چې نن یې د ژوند مړی په خپل کور کې ښخ دی او پرون د بل په کور کې ښخېده.

ما مخکې د خوښۍ او خوشحالۍ یادونه وکړه، زه خوښ او خوشحاله پر دې یم چې نن افغان ملت یو ډېر تاریخي پړاو تېر شو او هغه دا چې خپل د پاکستان د کرکټ ټیم ته یې افغان ملي لوبډلې ماتې ورکړه او لوبه یې ترې وګټله، که څه هم له دې دمخه افغان ملي لوبډلې ډېرې زیاتې لوبې ګټلې دي، د نړۍ له سترو سترو هېوادونو څخه یې ۳مخ

په افغانستان کې د امریکا او ...

ورکړې وو او تر پنځوس زره زیات نور یې ټپیان شوي وو، خو د امریکایي پوځیانو تلفات تر دې خورا کم دي.

د دې علت دا دی چې امریکایي پوځیان د شوروي پوځیانو په شان ډېر عملیات نه کوي. بل دا چې امریکایي پوځیان تر شوروي پوځیانو په ښو وسایلو سمبال دي چې د وژل کېدو خطر یې په نسبي ډول کم دی او دریم علت یې دا دی چې د امریکایي پوځیانو شمېر د شوروي ځواکونو په پرتله کم و. یوازې سږ کال د امریکایي پوځیانو شمېر یو لکو ته زیات شوی، خو په تېرو کلونو کې د هغوی شمېر د نولس زرو او دېرش زرو ترمنځ و، حال دا چې د شوروي ځواکونو شمېر د یو لکو شل زرو او یو نیم لکو ترمنځ و.

د شوروي اتحاد په وړاندې پاڅون یا جهاد سراسري او افغانستان شموله و، خو د امریکایانو پرضد جګړه په جنوبي او جنوب ختیځو ولایتونو پورې محدوده ده. یوازې سږ کال د افغانستان شمالي ولایتونو ته خال خال چریکي نښتې غځېدلې دي. خو د دې په مقابل کې د شوروي اتحاد په څنګ کې د افغانستان منظم حکومت، ملي اردو او ملي پولیس موجود وو.

د شوروي پرضد دوه نیم لکه مجاهدین جنګېدل، خو د امریکایي پوځیانو په وړاندې د جنګېدونکو طالبانو شمېر د ۲۵ زرو او ۳۰ ترمنځ اټکلېږي.

د شوروي ځواکونو د یرغل په نتیجه کې تر یو ملیون زیات عام افغانان ووژل شول. خو د امریکا او د هغې د متحدانو په یرغل کې د شاوخوا لس زره ملکیانو د وژل کېدو اټکل کېږي.

د امریکا د دفاع وزارت یا پنټاګون په وروستي راپور کې ویل شوي چې افغانستان ته د دېرش زره تازه دمه امریکایي پوځیانو له رسېدو سره د دغه هېواد په امنیتي وضعیت کې پرمختګ راغلی دی. له بلې خوا د امریکایي

د ۱۹۸۹ع کال د فبرورۍ پنځلسمه – شوروي پوځیان له افغانستانه وځي.

او ناټو ځواکونو عمومي قوماندان وايي چې په افغانستان کې د دوی هدف دا دی چې دا هېواد بیا هماغسې د ترهګرو په ځالې بدل نه شي چې د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د یوولسمې تر حملو مخکې و.

جنرال ډېوېډ پیټرایوس دا هم ویلي چې «د دوی بل اساسي هدف دا دی چې د افغانستان په امنیتي وضعیت کې ښه والی راشي، البته د سویس په شان نه، بلکې د افغانستان په سویه ښه والی.»

د اسوشیتید پریس خبري اژانس د راپور له مخې دوه دا هم ویلي چې دا هدف هغه وخت لاسته تر لاسه کېدای شي چې د افغانستان چارې په خپله افغان کنټرول کړي او افغان امنیتي ځواکونه مخکښ رول ولري.

د امریکایي چارواکو څرګندوني ښيي چې دوی غواړي نور له افغانستانه ووځي خو ایا د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به د افغانستان حکومت پښې ټینګې کړای شي؟ او که د شوروي پوځونو له وتلو وروسته د نجیب الله د حکومت په برخلیک به اخته شي؟

ځینې څارونکي وايي که شوروي اتحاد سقوط نه وای کړی او یا روسیې د کابل له حکومت سره مرستې نه وای بندې کړې ښايي د نجیب حکومت کلونه نور هم پایېدلی وای. د دوی په نظر له افغانستانه د شوروي ځواکونو وتلو د افغانستان حکومت او امنیتي ځواکونو ته د مقاومت انګېزه ورکړه او په مقابل کې یې مجاهدینو د جنګېدو انګېزه. په تېره بیا د پاکستان د ښکاره مداخلې او د عربانو د تجاوز او خپل سریو له کبله کمزورې شوه.

دوی ګومان کوي چې که لوېدیځ ځواکونه هم له افغانستانه ووځي د افغانستان امنیتي ځواکونه به د مقاومت انګېزه پیدا کړي. دا څارونکي په دې باور لري چې امریکایان د شورویانو په شان په خراب اقتصادي حالت کې له افغانستانه نه وځي چې افغانستان د حکومت مالي او تسلیحاتي مرستې ته دوام ورنه کړای شي. له بلې خوا امریکا دومره قدرت لري چې د پاکستان مخه ونیسي چې د پخوا په شان خپل جنرالان مستقیماً د افغانستان د جګړې میدان ته ولېږلی شي.

خو له دې ټولو خبرو سره سره د کابل حکومت ښايي تر هر بل بهرني خطر زیات له داخلي خطر سره مخامخ وي. که بهرني ځواکونه ووځي دا څوک نه شي تضمینولی چې د کابل حکومت به د هزاره ګانو، تاجکانو، پښتنو او ازبکانو ترمنځ په قومي بنیادونو نه وېشل کېږي. سر له اوسه د داسې هڅو نښانې د ولسي جرګې په وروستیو انتخاباتو کې څرګندې شوې دي. ادعا کېږي چې په دې انتخاباتو کې په قومي بنیادونو درغلۍ شوې دي.

د ټاند وېبپاڼې د راپور له مخې. له افغانستانه د شوروي ځواکونو له وتلو او د نجیب د حکومت له پرځېدلو وروسته افغانستان د خپل تاریخ له یوې خورا بدې او تورې دورې سره مخامخ شو. هېواد عملاً وېشل شوی و، خو څرنګه چې لا هم په افغانانو کې هغه ملي روحیه، چې د سلګونو کلونو په ترخ کې پیاوړې شوې وه، ژوندۍ وه، افغانستان تجزیه نه شو، خو دا ځل که مخکې تر دې چې بهرني ځواکونه له افغانستانه وځي، پر یو داسې حل لاره روغه نه شي، چې د ټولو خواوو لپاره د منلو وړ وي، ښايي د افغانستان لپاره تر ټولو ناوړه عواقب ولري

ACKU

ما قولی دادیم اما نتوانستیم ...

حزب شریک در دولت ایتلافی که نیک کلگ، رهبر آن معاون نخست وزیر است، تجمع کردند.

دانشجویان، رهبران این حزب را متهم کرده اند که به تعهد شان مبنی بر بالا نرفتن هزینه دانشگاه ها عمل نکرده اند.

آقای کلگ در گفت و گو با رادیو ۲ بی بی سی در پاسخ به این انتقاد گفت: "از اینکه در سیاست و یا زنده گی قولی را بدهی و نتوانی به آن عمل کنی، متنفرم. ما قولی دادیم اما نتوانستیم آن را عملی کنیم. ما نتوانستیم در انتخابات به طور کامل برنده شویم و در سازشی آشکار، ایتلاف کردیم."

این اعتراض ها در نقاط دیگر بریتانیا نیز به وقوع پیوسته و دانشجویان در شهرهای وینچستر، کمبریج و لیدز هم کلاس های درس را ترک کرده اند.

همچنین معترضان در دانشگاه های منچستر، لیورپول، شفیلد، بریستول، آکسفورد، کمبریج، نیوکاسل، لیدز، کاردیف، گلاسکو و ادینبورگ راهپیمایی کردند.

دلیل اعتراض های دانشجویان، برنامه یی است که دولت ایتلافی این کشور برای افزایش هزینه تحصیلات دانشگاهی تا مرز ۹ هزار پوند و کاهش بودجه عمومی دانشگاه ها در نظر گرفته است.

دو هفته پیش نیز دانشجویان معترض به دفتر حزب محافظه کاران حمله کردند، که از آن زمان تاکنون ۶۸ نفر بازداشت شده اند.

در اعتراضات اخیر، معترضان پیش از اینکه بتوانند به میدان مقابل ساختمان پارلمان برسند، توسط پولیس در خیابان "وایت هال" متوقف شدند.

مارک برگفلد، سخنگوی شبکه فعالان دانشجویی، یکی از گروه های برگزار کننده این اعتراض ها گفت: "ما این حق را داریم که اعتراض کنیم. حق داریم نافرمانی مدنی کنیم. حق داریم سالن های سخنرانی را اشغال کنیم."

یک گروه آنارشیست پیشنهاد کرده که به جای رویارویی با پولیس در مرکز لندن، "تجمعات پراکنده" برای "برهم زدن کسب و کار" انجام شود.

رهبران معترضان مدعی شدند که موج بی سابقه یی از شورش دانشجویی اتفاق افتاده است.

آنها می گویند که این اعتراضات به دنبال روح اعتراضات دانشجویی سال ۱۹۶۸ میلادی است.

بسیاری از اعتراض ها و راهپیمایی های اخیر در بریتانیا از طریق شبکه های اجتماعی اینترنتی برنامه ریزی شده است.

امیدهای بی سرانجام روسیه ...

منبع اختلاف به زمینه یی برای همکاری جهت مقابله با خطرات مشترک» را ضروری دانسته بود.

قابل ذکر است که گام‌های معینی در این جهت برداشته شده است. در نشست ناتو که در آستانه ورود مدویدیف به لیزبن برگزار شد، توافق درباره ایجاد سامانه ضدموشکی برای منطقه اروپایی –اتلانتیک حاصل شد و پس از آن نیز ناتو، روسیه را رسماً به همکاری در چارچوب این پروژه دعوت کرد. روز بعد، مدویدیف این پیشنهاد را در نشست خود با سران ناتو پذیرفت. اما، در شرایط حاضر نمی‌توان به یقین گفت که توافقات چه نتیجه مشخصی خواهد داد، زیرا حتا در میان اعضای ناتو درباره بعضی مسایل اصولی توافق حاصل نشده است. برای مثال، تا کنون مشخص نشده که تصمیم درباره استفاده از سامانه ضد موشکی باید توسط چه کسی اتخاذ شود. در مقابل، بسیاری از کارشناسان نظامی روسیه بر این عقیده‌اند که مسکو باید نظارت بر سامانه‌های موشکی و ضدموشکی خود را حفظ کرده و اینکه یک روش مشخص و مشترک برای اتخاذ تصمیمات در چهارچوب همکاری متقابل با ناتو طراحی شود. ولی، سرگئی پریخودکا، معاون مدویدیف در سیاست خارجی نقطه نظرمتفاوتی دارد. به گفته او؛ روسیه حاضر است عضو سامانه اروپایی "پدافند" ضد موشکی شود که از سوی فرماندهی نظامی در بروکسل اداره شود.

سامانه پدافند ضد موشکی تنها مسأله یی نبود که در لیزبن مورد بحث قرار گرفت. در این نشست، نظریه راهبرد جدید پیمان اتلانتیک شمالی نیز تصویب شد. این سند اختیارات ناتو را توسعه داده و به سازمان این اختیار را می‌دهد که نه تنها در منطقه اروپایی –اتلانتیک، بلکه خارج از این حوزه نیز فعالیت کند. اعضای ناتو (مانند واشنگتن) مناقشات در همه نقاط جهان را به عنوان خطری برای امنیت خود تلقی می‌کنند و برای حل و فصل این مناقشات حاضرند از «مکانیزم‌های مدیریت و حل بحران حتا از طریق توسل به زور» نیز بهره بگیرند. نظریه جدید یک بار دیگر بر اهمیت ماده پنج پیمان واشنگتن درباره امنیت جمعی تأکید کرد که تهاجم به هر کشور عضو ناتو را به عنوان خطر برای تمام پیمان تلقی می‌کند. در این میان، تغییری در دیدگاه ناتو درباره الحاق اکراین و گرجستان به این سازمان رخ نداده است. واقعیت امر این است که عضویت این کشورها در ناتو برنامه ریزی شده، اما برای اینکه مسکو واکنش منفی انجام ندهد، این منظور به تعویق انداخته شده است.

در سندی که در لیزبن به تصویب رسید، تأکید شده که ناتو روسیه را تهدید نمی‌کند و به مشارکت واقعی با مسکو علاقه مند است. ولی ابتکار اساسی مدویدیف در حوزهٔ سیاست خارجی یعنی انعقاد قرارداد درباره امنیت جمعی در این نظریه منعکس نشده است. افزون بر این، ناتو مسأله کاهش سلاح‌های تاکتیکی در اروپا را مانند سابق با گام‌های متقابل روسیه مرتبط کرده است. بحث درباره افغانستان، موضوع مهم دیگر نشست ناتو بود. طرف امریکایی از سایراعضای پیمان دعوت کرد که درعملیات افغانستان سهم فعال تری بگیرند. در روز دوم نشست، دمیتری مدویدیف به رهبران کشورهای عضو ناتو پیوست. در جریان ملاقات وی با رهبران غرب، علاوه بر اظهار نظر مثبت درباره پدافند ضد موشکی، توافقاتی نیز درباره ترانزیت محموله‌های بازگشتی ناتو از افغانستان حاصل شد و زمان بندی مذاکرهٔ درباره انتقال محموله‌های نظامی به افغانستان نیز مشخص شد.

موافقت مسکو با همکاری با ناتو در این زمینه‌ها، اقدامی فراتر از چارچوب همکاری طرفین است که در سال ۲۰۰۱ در آغاز عملیات ضد تروریستی در افغانستان حاصل شده بود. این در حالی است که ناتو این کمک‌های روسیه را کافی ندانسته و در عوض همکاری در زمینه پدافند ضد موشکی، حمایت مکمل از ناتو در رابطه با افغانستان و ایران، اجرای تعهدات در زمینه گرجستان و از سر گیری اجرای قرارداد نیروهای متعارف در اروپا را از مسکو خواستار شده است. این درخواست‌ها گواه تمایل مسکو به آن است که چهارچوب همکاری با روسیه را بر اساس شرایط خود تنظیم کند. اما درخواست ناتو از مسکو برای همکاری بیشتر را می توان خدشه دار شدن حق حاکمیت روسیه دانست. چرا که حمایت ناتو از منافع گرجستان به معنی ایجاد محدودیت در زمینه استقرار پایگاه‌های نظامی روسی در آبخازیا و اوستیای جنوبی است. اجرای قرارداد نیروهای متعارف در اروپا نیز ناظر بر منع جابجایی نیروهای روسی در خاک روسیه است.

حمایت مسکو از ناتو در افغانستان نیز خطر کشانده شدن روسیه به جنگ افغانستان را فراهم می‌کند. بررسی این معادلات نشان می‌دهد که ادامه نزدیکی روابط با ناتو برای مسکو نه تنها سودمند نیست، بلکه خطرناک نیز خواهد بود. در این بین، اندیشهٔ مثبت در خصوص دورنمای عضویت روسیه در ناتو از این نیز خطرناکتر است. آغاز این مذاکرات به صورت اتوماتیک باعث خواهد شد که روسیه حق مخالفت با پذیرش گرجستان و اکراین به ناتو را از دست دهد در حالی که عضویت خود روسیه در این پیمان مورد تردید باقی خواهند ماند.

این یک حقیقت آشکار است که روسیه سال‌هاست که برای پیوستن به عضویت سازمان تجارت جهانی در حال مذاکره است، اما هنوز عضو این سازمان نشده است. مذاکرات درباره عضویت روسیه در ناتو نیز به همین اندازه طول خواهد کشید. به نفع ناتو نیست که کشوری را که از مرزهای طولانی، با ساختار دفاعی ضعیف و همسایگان دشوار برخوردار است را به عضویت خود بپذیرد و به این کشور ضمانت‌های امنیت بدهد.

لذا شرایط به گونه یی است که ناتو تنها در مقابل وعده‌های «میان خالی» از روسیه می‌خواهد که گام‌های عملی برای نزدیکی به این سازمان بردارد. در صورت اقدام عملی مسکو در این زمینه، این امر باعث تضعیف تعاملات نظامی و سیاسی روسیه با بسیاری از متعاملین شرقی و جنوبی خود خواهد شد. با این ملاحظه، در فرآیند نزدیکی روابط با ناتو، باید حدود سازش‌های ممکن را به صورت مشخص تعیین کرد. مسکو ضمن نادیده گرفتن تجربه ۲۰ سال اخیر تظاهر می کند که «همه امور بر وفق مراد است» و به بازی یی ادامه می دهد که طی آن چیزی جز شکست نصیب روسیه نخواهد شد.

وخت به راځي چې غابښ ...

لوبې ګټلې دي، حتا له امریکې یې هم ګټلې ده؛ خو د پاکستان له ماتې او له پاکستانه د لوبې ګټلو ته زما په ګډون د ټولو افغانانو د خوښۍ احساسات ځکه راپارېدلي دي، چې افغانستان د خپلې ټولې تېرې بدمرغۍ او درپه درۍ لامل همدا پاکستان ګڼي، دا نن چې یې لوبغاړي په لوبغالي کې په ځوړندو سرونو افغان اتلانو ته مبارکي ورکوله، چې (تاسې وګټله، مبارک مو شه) او بیا به یو یو تېر بدل. افغان ملي اتلانو په لوبغالي کې اتڼونه کول او خپل ملي بیرغ یې له ځان سره په نڅا کړی و، پاکستان او د ټولې نړۍ هېوادونو ته یې ښودله چې که موږ پرېښودل شو، هېڅوک را نه نشي مخکې کېدلای، حتا پاکستان هم. ښاغلی الحاج پیر محمد کاروان صیب د پښتو ژبې هغه ملنګ شاعر دی چې افغان تېره څو دېرش کلنه غمیزه یې په خپلو شعرونو کې داسې رااخیستې او داسې یې انځور کړې ده، چې زه فکر کوم د نړۍ هېڅ شاعر به ورسره سیالي ونشي کولای. زه دا دومره ستره دعوه ځکه کوم چې که په نړۍ کې هر شاعر ته د غمیزو په انځورولو او شعر کولو کې د ستروالي نوم ورکول کېږي؛ نو هغه دې راوستل شي، یا دې یې شعرونه راوړل شي د کاروان له شعرونو سره دې کېښودل شي، د هغه شاعر د ټولنې غمیزه دې هم زما د هېواد او ولس له غمیزې سره په تله کې واچول شي او د هغه شاعر د ژوند حالات او شرایط دې زما د کاروان د ژوند له حالاتو او شرایطو سره کېښودل شي. بیا دې نر شي ودې یې ګټي، زه له همدې ځایه ددې لیکنې په وسیله د ښاغلي کاروان لاسونه او پښې ځکه ښکلوم او وایم چې د ښکلولو وړ ځکه دي، چې د هغه یوه بله وړاندوینه هم پر ځای او رښتیا وخته او انشاء الله په اینده کې داسې رښتیا کېږي چې ټوله دونیا به پر دې اعتراف کوي. کاروان صیب هغه مهال چې دلته د کابل پر تخت تور پنجاب ناست و. هغه مهال چې درپه دره ولس یې د پاکستان په دښتو کې د ژوند او مرګ تر منځ ساه اخیسته. هیله درلوده او خپل ولس ته یې په دې ډول چیغې وهلې، چې:

وخت به راځي چې غابښ د زهرو به ښامار نه لري
منصور به ګرځي مستانه ملا به دار نه لري
مرغان دې راشي زموږ لپو کې دې ځالې وکړي
غر مو نښتر نه لري کلی موچینار نه لري

ښایي هغه مهال د ښاغلي کاروان دا وړاندوینه د ډېرو لپاره له امکانه لرې ښکاره شوې وي، ډېرو به ورپورې خندلي هم وي، چې کاروان لا کوم وخت ته انتظار دی، خو نن د کرکټ په لوبه کې د پاکستان ماتې له ځان سره هغه زېری راوړي او هغه هیله پوره کېدو ته نږدې کوي چې کاروان کلونه پخوا په پېښور کې ویلې وو، چې (وخت به راځي چې غابښ د زهرو به ښامار نه لري).

کاروان له دې وړاندې هم یوه ډېره په زړه پورې وړاندوینه کړې وه او رښتیا وخته، داسې وړاندوینه چې هغه مهال ډېرو ورته د حیرت په سترګه کتل او فکر یې کاوه چې کاروان دومره ستره خبره کړې ده لکه سپوږمۍ چې په ځمکه غواړي، هغه مهال د افغانۍ ارزښت دومره کم و، چې په بوریو کې به ګرځول کېدې، زه که څه هم هغه مهال دومره نه وم، خو ښه مې یادېږي چې له پاکستانیانو سره د بحث لوړی پیغور همدا و، چې زموږ زر کلدارې ستاسې څو لکه افغانۍ کېږي؟ کاروان ته لکه الهام چې شوی وي، د همدې پیغورونو په ځواب کې یې دومره غټه خبره وکړه چې هغه مهال خلکو ته پرې خندا ورتله؛ خو هغه په زغرده وویل، چې:

خاوند داسې وخت به په نږدې موده کې راشي
چې پورته افغانۍ وي او کلداره ښوېدلې

ددې وړاندوینې زور او د ښاغلي کاروان کرامات هغه چا ته ښه معلومېږي چې دا شعر یې هغه مهال اورېدلی یا لیدلی وي. چې افغانۍ لکه د بوسو د بنډلونو په څېر ټرل کېدې او د پاکستانیانو ملنډې په افغانانو، افغانۍ او افغانستان پسې هر ځای روانې وې. خو له دې شعر لیکلو یوازې څو کلونه د ښاغلي کاروان دا وړاندوینه رښتیا وخته او اوس رښتیا هم کلداره ورځ په ورځ ښوېږي او افغانۍ پورته ده. افغان پورته دی او افغانستان پورته دی او که د خدای تعالی جل جلاله رحم او فضل و، نو همداسې به پورته وي.

ما مخکې وویل چې د ښه ژوند راز په نیکو او ښو هیلو لرلو کې دی، راځئ چې موږ او تاسې هم د ښاغلي کاروان پر پله پل واخلو او د راتلونکي لپاره د خپل ګران هېواد افغانستان د کورنیو او بهرنیو دښمنانو د شرمېدلو، ذلیلېدلو او ماتېدلو هیله په زړونو کې ولرو او د یو سر لوړي او بریالي افغانستان فکر مو په خپلو سرونو کې رابیداره کړو. د همداسې یوې ورځې په هیله

د افغان لوبډلې چټک پرمختګ ...

د سپینو زرو مېډال ګټلی دی. د بنګله دېش د کرکټ ټیم کوچ عمران سرور د افغان لوبغاړو په باب وویل: «دوی ډېر تکړه دي، زه مطمین یم چې دوی به په نږدې راتلونکي کې د نړۍ تر ټولو په غوره ټیم بدل شي. د دوی چټک پرمختګ حیرانوونکی دی.»

څوک ګرم دي، لویه څارنوالي ...

امله ځنډېدلې وي، خو نن د شنبې ورځ به هر و مرو ور وسپارل شي. په همدې ترځ کې لویې څارنوالۍ په ټاکنو کې د درغلۍ په تور تر اوسه پورې د نهه تنه نیولي او د شپږو تنو د نیولو امر یې صادر کړی.

له دې سره سره د رسنیو له خوا داسې راپورونه هم خپاره شول، چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوه لوړپوړي تصمیم نیوونکي چارواکي د ملګرو ملتونو دفتر ته پناه وړې ده، خو د برخلیک په اړه یې تراوسه څه نه دي ویل شوي. د یادونې ده، چې د لویې څارنوالۍ او د ټاکنو کمېسیون تر منځ لانجې نوی سر راپورته کړی او تر اوسه دا څرګنده نه ده، چې په دې برخه کې به لویه څارنوالي خپله ملامتیا مني او که به کمېسیون؟

ACKU

در لیز بن آنها صحبت میکنند و در افغانستان اینها می میرند

منبع: روزنامه اندیپندنت ——— نویسنده گان: میکاییل سویچ وکیم سنگوپتا ——— برگردان: روزنامه اراده


ONNE 2010 LISBOA LISBONNE LISBOA 2010 LISBONNE 2010 LISBON

کریستوفردیویس۲۲ ساله صدمین عسکر خدماتی بریتانیایی بود که در نخستین روز نشست سران ناتو در لیزبن در افغانستان کشته شد

کریستوفر دیویس یک افسر نگهبان در قوای پیاده نگهبانان آیرلند به حیث صدمین عضو قوای مسلح بریتانیایی بود که امسال در جنگ افغانستان به هلاکت رسید.

مرگ این جوان ۲۲ ساله، در هنگامیکه رهبران جهان به منظور طرح یک راهبرد برای خروج از جنگ خونین افغانستان در لیزبن دور هم جمع شده بودند، یک پیام جگر خراش را به مردم بریتانیا به ارمغان داد. در حالیکه اکنون ادعا شده است که از سال ۲۰۰۱ تا کنون بیش از ۳۴۵ افراد خدماتی بشمول مرد و زن بریتانیایی در این کشور جان های خود را از دست داده اند.

افسر نگهبان دیویس هنگامی توسط فیر مخالفان به هلاکت رسید که درولسوالی نهر سراج ولایت هلمند مصروف گشت زنی بود. وی پدر یک دختر جوان بنام لوسی بود، " براین فیلپس " یکتن از همکاران وی می گوید که او چندین قطعه عکس دخترش را با خود داشت که همواره در باره او صحبت می کرد.

فامیل وی لحظاتی را بیاد می اورند که دیویس را به خاطر خدا حافظی برای مسافرتش به افغانستان به آغوش گرفته بودند. او همراه برادر ۲۱ ساله خویش جان دیویس در گارد ایرلیندی یکجا ایفای وظیفه مینمود.

کریستوفر هنگامیکه هنوز به مکتب بود، همیشه می خواست که در بخش نظامی ایفای وظیفه نماید، فامیل وی می گوید " رفقایش در عسکری برای ما گفته بودند هر وقتیکه انها به زمین می افتادند او بالای شان فریاد خوشی می نمود او یک کرکتر عالی داشت وما همیشه او را به یاد می اوریم، در عدم موجودیت او یک خلای بزرگ وعمیق در زنده گی ما ایجاد شده است

حتا مرگ او باعث ان شد که دیوید کامرون و هیات همراش در سران ناتو در لیزبن در ملاقات با وزرای خارجه، معاونان و روسای نظامی پیرامون برگشت محفوظ و باامن هر یک از شهروندان بریتانیای صحبت نماید. او اظهار کرد که فامیل ها برای برگشت فرزندان شان به خانه دقیقه شماری می نمایند.

در جریان سال روان میلادی تلفات ملکی و نظامی بیشتری نسبت به جنگی که در سال ۲۰۰۱ اغاز شده بود، ثبت شده است. ازافسرده گی و محرومیتی که دررکود جنگ ۹ ساله در افغانستان به مشاهد میرسد، حوصله مردم بریتانیا سررفته و امروز هزاران نفر بر ضد جنگ به سرک ها و جاده های آنکشور دست به تظاهرات می زنند و خواهان برگشت عساکر بریتانیایی هستند.

آقای کامرون اصرار می نماید که با اخذ مسوولیت امنیتی توسط حکومت افغان،عساکر بریتانیایی نقش جنگی خود را تا سال ۱۰۱۵ به پایان خواهد رساند. لیکن در واشنگتن سخنگوی پنتاگون " جیف مورل " بیان داشت که زمان بندی " یک هدف آرزویی " است و تضمینی وجود ندارد که به تاریخ تعیین شده اخراج قوای غربی به یک پیمانه وسیع صورت بگیرد.

هکذا اندرس فوگ راسموسن منشی عموی ناتو اظهار نموده که تا کنون " پلان واقعی " برای عقب کشیدن قوا در جولای آینده که بارک اوباما اشاره نموده، روی دست نیست در حالیکه ده ها هزار نیروی کمکی در نقط مختلف افغانستان موج میزند.

در جریان سال روان میلادی تلفات ملکی و نظامی بیشتری نسبت به جنگی که در سال ۲۰۰۱ اغاز شده بود، ثبت شده است. ازافسرده گی و محرومیتی که دررکود جنگ ۹ ساله در افغانستان به مشاهد میرسد، حوصله مردم بریتانیا سررفته و امروز هزاران نفر بر ضد جنگ به سرک ها و جاده های آنکشور دست به تظاهرات می زنند و خواهان برگشت عساکر بریتانیایی هستند.

رهبران ناتو در باره تسلیم دهی مسوولیت امنیتی به قوای افغان موقف خود را اظهار نمودند. راسموسن همچنان بیان داشت که هنگامیکه پلان انتقال بصورت یک نقشه راه واقعی تقدیم میشود، باز هم این موضوع مربوط به اصلاح و بهبود قوای امنیتی افغان است. وی اضافه کرد :" وظیفه ما هنگامی به پایان خواهد رسید که افغانها قادر به گرفتن مسوولیت توسط خود شان گردند." ما امید وارهستیم که انها قادر به گرفتن چنین مسوولیت در تمام افغانستان تا اخیر سال ۲۰۱۴ گردند. لیکن واضحاً این پروسه باید به اساس شرایط باشد. ما باید مطیمن گردیم که افغانها واقعاً قادر به گرفتن مسوولیت باشند، قبل ازانکه ما مسوولیت را به افغانها بسپاریم.

وقتیکه در باره برنامه های امریکا پیرامون اغاز اوردن عساکر به وطن در سال اینده پرسیده شد، گفت:" من از برنامه های واقعی اخراج عساکر مطلع نیستم. برعکس من فکر می کنم تمام متحدین اماده می شوند که به زودی ممکن وظایف خود را به انجام برسانیم.

یک مامور ارشد ناتو همراه با تجارب وسیع در باره افغانستان، هوشدار داد زمانیکه عساکر امریکایی این کشور را ترک نمایند یک تاثیر بجا خواهد گذاشت، انکشاف تا هنوز غیر قابل تغییر بود. این یک مرحله مربوط به شرایط است نـه یک مرحله اقدام زمانی.

ما پیرامون اوضاع امنیتی در افغانستان در قسمت صحبت های خوش بینانه، زیاده روی نمی کنیم. ما انکشاف واقعی نموده ایم لیکن این انکشاف تا هنوز تغییر ناپذیر نیست. چیزی که ما انجام داده ایم اینست که ابتکار عمل را دو باره به دست اوریم

لیام فاکس وزیر دفاع بریتانیا اعتراف کرد که حکومت افغانستان تا سال ۲۰۱۵ ضرورت به " کمک و مشوره " بین المللی خواهد داشت، و حالا بسیار زود خواهد بود که بگوییم چی سهمی قوای ۱۰۰۰۰ نفری بریتانیای بعد از این تاریخ ضرورت خواهد داشت. او گفت :" اکر شما ببینید که چه اتفاقی در عراق در حال به وقوع پیوستن است، انجا هنوز خشونت ها در سطوح مختلف به وقوع می پیوندند، ما تصمیم نداریم که دفعتاً در شب هنگام انتقال محفوظ، با امن و صلح امیز را درافغانستان عملی نماییم.

اقای فاکس اضافه نمود که قوای بریتانیا ممکن دوباره در خارج هلمند جابجا گردند. وی گفت در صورتیکه شرایط امنیتی بهبود یابد ما تعداد قوا را تغییر خواهیم داد.

اقای فاکس افزود:"افسر نگهبان دیویس یکی از ۶۵۴ عسکر ناتو بود که زنده گی خویش را در این سال از دست داد، که قربانی اش فراموش ناشدنی است."

اعلامیه جهانی حقوق کودک

اصل هشتم:

کودک باید در هر شرایطی جزو اولین کسانی باشد که از حمایت و تسهیلات بهره‌مند می‌شود.

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۷۷۰۷۶۲۸ - ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپانه یوازې
د سرلیکنې ننگه کوي،
نورې لیکنې د لیکوال
خپل نظر دی، ورځپانه یې
مسوولیت پر
غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین : انجنیر محمدجمیل "امیری "
همکار تخنیکی: محمدجمیل " احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنک، عقب سینمای
بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com